صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
ویب سایت: www.parmakhtag.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان



۱۲۱
شماره

د افغانستان اسلامي امارت، د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي ریاست، د ویاند دفتر، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 میلادي | د چاپ نېټه: ربیع الثاني ۲۵مه، کال ۱۴۴۸ هجري قمري

# خط لوله تاپی به محدوده شهر هرات رسید



دفتر مطبوعاتی مقام ولایت هرات می‌گوید که خط لوله گاز تاپی به محدوده شهر هرات رسیده و آماده‌گی‌ها برای انتقال گاز این پروژه به داخل شهر و شهرک صنعتی جریان دارد. درخبرنامه این دفتر آمده‌است که مولوی نوراحمد اسلام‌جار، والی هرات دردیدار با محمد مراد امانوف، رئیس عمومی پروژه تاپی، درباره آماده‌گی‌ها برای انتقال خط لوله گازتاپی به داخل شهر هرات و شهرک صنعتی این ولایت گفت‌وگو کرده‌است...

۲

## د کابل هوايي ډګر له لارې په شپږو میاشتو کې څه باندې ۱۷ زره ټنه کارګو لېږدول شوي



۵

## د ریاست الوزراء اداري مرستیال د یو پلاوي په مشرۍ د کندهار عمومي زندان وضعیت وارزاوه

د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي، د تشکیلاتو او معاشونو کمېسیون له غړو څخه د جوړ شوي پلاوي په مشرۍ د کندهار د عمومي زندان وضعیت وارزاوه...

۲

## سرمقاله

## د خلکو د هوساینې او ټولنیز سمون په لور؛ د ۱۴۴۷ هجري قمري کال هڅې

د یوې ټولنې د سالم پرمختګ او د خلکو د هوساینې لپاره یوازې د قوانینو او مقرراتو شتون بسنه نه کوي؛ بلکې د ارزښتونو پیاوړتیا، د ټولنیزو ستونزو د هوارۍ لپاره هڅې، د خلکو د شکایتونو اورېدل او د اصلاح په برخه کې دوامدار کار هغه مهم بنسټونه دي چې د ټولنې د نظم او ثبات په ټینګښت کې ونډه لري.
د ۱۴۴۷ هجري قمري کال په ترځ کې د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت فعالیتونه هم د همدې موخو په چوکاټ کې ترسره شوي دي. د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی د ۱۷ مې ګڼې فرمان د احکامو د تطبیق او د ناسمو او ناپسندو دودونو او رواجونو د مخنیوي په موخه، په ټول هېواد کې له ۱۰ زرو څخه زیاتې عامه پوهاوي غونډې او ناستې ترسره شوې دي. په بېلابېلو ټولنیزو، تعلیمي، تحصیلي، فرهنګي او اداري چاپېریالونو کې د اصلاحي وینااوو او غونډو ترسره کول او د عامه پوهاوي پراخ پروګرامونه، د دې کال د فعالیتونو له مهمو برخو څخه ګڼل کېږي.
د ټولنې د اصلاح موضوع یوازې د عامه پوهاوي تر کچې محدوده نه پاتې کېږي؛ بلکې د اسلامي ارزښتونو د پیاوړتیا او د خرافاتو د مخنیوي په برخه کې هم عملي اقدامات ترسره شوي دي. په همدې موخه، په ۱۴۴۷ هجري قمري کال کې د هېواد په کچه ټولټال ۱۶۴۹ جادوګر نیول شوي چې له دې یې ۳۸۸ تنه د ولایتونو په مرکزونو او ۱۲۶۱ تنه د ولسوالیو او کلیو په کچه فعالیت درلود.
دغه اقدامات د ناسمو عقایدو او خرافاتو د مخنیوي او د اسلامي ارزښتونو د پیاوړتیا په برخه کې د ترسره شویو هڅو یوه برخه څرګندوي...

۲

## معاون اقتصاد ریاست الوزراء سنگ تهداب شهرک صنعتی در بلخ را گذاشت



۲

## ساخت و بازسازی بیش از پنج‌هزار مکتب و مدرسه در پنج سال



۵

## د افغانستان بانک: په بانکونو کې د خلکو سپماوې زیاتې شوې

د افغانستان بانک وایي، سږ کال په بانکونو کې د خلکو د سپماوو کچه لوړه شوې او د هېواد په بانکي سکټور کې د پام وړ پرمختګونه شوي دي.
د افغانستان بانک لومړي مرستیال صدیق‌الله خالد د دغه بانک...

۵

## وزیر صحت عامه خواستار گسترش همکاری‌های صحی روسیه با افغانستان شد

۲

### توجه خاص حکومت به انکشاف و زیرساخت‌ها

توجه به انکشاف زیرساخت‌ها و تقویت اتصال منطقه‌ای، از محورهای مهم توسعه اقتصادی افغانستان به شمار می‌رود. سرمایه‌گذاری در بخش‌های ترانزیت، راه‌ها، انرژی و پروژه‌های زیربنایی می‌تواند زمینه‌ساز گسترش تجارت، تسهیل رفت‌وآمد و تقویت همکاری‌های اقتصادی با کشورهای منطقه باشد. امارت اسلامی با تمرکز بر توسعه زیرساخت‌ها و گسترش مسیرهای ارتباطی، بر نقش افغانستان به‌عنوان یک پل ترانزیتی و اقتصادی میان آسیای مرکزی، آسیای جنوبی و سایر بازارهای منطقه تأکید دارد. تداوم این روند می‌تواند زمینه‌های بیشتری برای اتصال منطقه‌ای، رشد تجارت و ایجاد فرصت‌های اقتصادی فراهم سازد.

مولوی نعیم الحق حقانی
رئیس مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

## سرمقاله

# د خلکو د هوساینې او ټولنیز سمون په لور؛ د ۱۴۴۷ هجري قمري کال هڅې

...د خلکو حقونو او ستونزو ته رسېدنه هم د ټولنیزې اصلاح د بهیر مهم اړخ دی.
په همدې موخه، په ۱۴۴۷ هجري قمري کال کې په مرکز او ولایتونو کې د ښځو د شرعي حقونو ۳۲۹۴ قضیو ته رسېدنه شوې، ۱۳۶۰ ښځې له کورني تاوتریخوالي څخه ژغورل شوې او د قومونو او کورنیو ترمنځ ۴۸۹۶ شخړې او دښمنۍ حل او فصل شوې دي. دغه اقدامات ښیي چې د ټولنیزې اصلاح هڅې یوازې د پوهاوي تر کچې نه دي محدودې شوې، بلکې د خلکو د حقونو د تأمین او د ټولنیزو شخړو د هوارۍ په برخه کې هم عملي رسېدنه شوې ده.
له بلې خوا، د شکایتونو اورېدل او د خلکو ستونزو ته د رسېدنې بهیر د ادارې او ولس ترمنځ د اړیکو له مهمو لارو څخه دی. په ۱۴۴۷ هجري قمري کال کې یاد وزارت ته ټولټال ۱۰ زره شکایتونه ثبت شوي چې له ډلې یې له ۶ زرو څخه ډېر شکایتونه حل شوي دي. د شکایتونو ثبت او د هغو د حل لپاره د رسېدنې دوام ښیي چې د خلکو د ستونزو د اورېدو او د هغوی د قضیو د تعقیب بهیر روان ساتل شوی دی.
په ټوله کې، د ۱۴۴۷ هجري قمري کال د فعالیتونو دا لنډ انځور څرګندوي چې د ټولنیزې اصلاح، د خلکو د ستونزو د اورېدلو، د شخړو د هوارۍ او د عامه پوهاوي په برخو کې بېلابېل اقدامات ترسره شوي دي. د دغو فعالیتونو ثبت او مستندسازي نه یوازې د تېر کال د کارونو د پېژندنې لپاره ارزښت لري، بلکې د راتلونکو فعالیتونو د ارزونې، تجربو د لېږد او د خدمتونو د لا ښه تنظیم لپاره هم د یوې مهمې سرچینې په توګه کارېدلی شي.

# جلسهٔ کمیسیون اداری برگزار شد

جلسهٔ کمیسیون اداری، تحت ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء و اعضای کمیسیون مذکور برگزار شد.
در این جلسه، ابتدا از سوی کمیته‌های موظف راجع به فعالیت‌ها و اجراآت شان در مورد وظایف سپرده شده گزارش ارائه گردید. سپس روی موضوع مربوط به وزارت صحت عامه پیرامون رسیدگی به مشکلات شفاخانه‌های خصوصی بحث و بررسی همه جانبه صورت گرفت. در اخیر، در مورد موضوع فوق تصامیم لازم اتخاذ گردید و جهت تدقیق سایر موارد شامل آجندا به کمیته‌های جداگانه وظیفه سپرده شد.

# معاون اقتصاد ریاست الوزراء سنگ تهداب شهرک...

...محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، در دو راهی حیرتان ولایت بلخ، سنگ تهداب شهرک صنعتی «امام شقیق بلخی رح» را گذاشت.
محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در مراسمی که به همین مناسبت برگزار شده بود، گفت که اولویت امارت اسلامی افغانستان این است که افغانستان را به‌گونه تدریجی به یک کشور تولیدی و نیروی بشری جوان را به نیروی تولیدی تبدیل کند، صنعت، تولید و بازار را با هم وصل سازد و محصولات تولیدشده معیاری را به بازارهای منطقه و جهان عرضه کند.
معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء افزود که شهرک صنعتی بلخ، تعهد، تفکر استراتیژیک و عزم نیرومند امارت اسلامی برای ایجاد یک افغانستان صنعتی و تولیدی را در عرصه عمل ثابت می‌کند.
محترم ملا عبدالغنی برادر آخند افزود که با این کار، مشکل کمبود زمین صنعتی در این ولایت حل خواهد شد، برای صنعت‌کاران زمینه فعالیت فراهم می‌شود، وابستگی به واردات کاهش می‌یابد و همزمان برای هزاران هموطن نیز زمینه کار فراهم خواهد شد.
معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، بلخ را از ولایت‌های مهم تجارتی، ترانزیتی و صنعتی کشور خواند و گفت که بندر حیرتان در این ولایت نباید تنها مسیر واردات اموال و رفت‌وآمد عادی باشد؛ بلکه این مسیر باید یک راه مهم ترانزیتی برای صادرات محصولات پروسس‌شده و تولیدات افغانستان باشد.
محترم ملا عبدالغنی برادر آخند از جامعه جهانی خواست که دروازه‌های روابط رسمی اقتصادی با افغانستان را به‌گونه کامل باز کرده و انجماد مالی و بانکی را پایان دهند. معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء گفت که امارت اسلامی ظرفیت و اراده اشتراک فعال در مشارکت اقتصادی منطقه‌ای و بین‌المللی را دارد.
معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، در پایان از تمام صنعت‌کاران خواست که از این فرصت استفاده کرده و در این شهرک صنعتی در بخش‌های مختلف سرمایه‌گذاری کنند. معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء از فراهم‌سازی سهولت‌های لازم و همکاری امارت اسلامی اطمینان داد.
قابل یادآوری است که شهرک صنعتی بلخ در مساحت ۲۲ هزار جریب زمین ساخته می‌شود که زمینه پروسس مواد خام، تولید محصولات معیاری و صادرات را در سکتورهای مختلف فراهم خواهد کرد.

# خط لوله تاپی به محدوده شهر...




...والی هرات از رسیدن خط لوله تاپی به محدوده شهر هرات ابراز خرسندی کرده و گفته‌است که اداره محلی این ولایت برای پیشبرد و اجرای این پروژه همکاری لازم را انجام می‌دهد.
در همین حال، محمدمراد امانوف، رئیس عمومی پروژه تاپی گفته‌است که مسئولان این پروژه تلاش دارند اقدامات لازم را برای انتقال خط لوله گاز به داخل شهر هرات و شهرک صنعتی این ولایت انجام دهند.
او از همکاری اداره محلی هرات نیز قدردانی کرده و گفته که پیشرفت‌های به‌دست‌آمده در این بخش، نتیجه همکاری میان مسئولان پروژه تاپی و ادارهٔ محلی هرات است.
پروژه تاپی یکی از پروژه‌های بزرگ انتقال گاز در منطقه است که قرار است گاز ترکمنستان را از طریق افغانستان به پاکستان و هند انتقال دهد.
این خط لوله حدود یک‌هزار و ۸۰۰ کیلومتر طول دارد و ظرفیت انتقال سالانه ۳۳ میلیارد مترمکعب گاز طبیعی را خواهد داشت.
این در حالی است که پیش از این نیز هیئت‌های تخنیکی افغانستان و ترکمنستان درباره چگونگی ایجاد شبکه توزیع گاز در شهر هرات، پارک‌های صنعتی، خانه‌های مسکونی، ادارات دولتی و ساحات تجارتی گفت‌وگو کرده بودند.
منبع: پژواک

# د ریاست الوزراء اداري مرستیال د چین سفیر سره د مخه ښې کتنه وکړه

د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي، په کابل کې د چین سفیر ښاغلي جاو شینګ سره د مخه ښې کتنه وکړه.
په دې کتنه کې چې په ارګ کې وشوه، په کابل کې د چین سفیر په افغانستان کې په خپل درې کلن ماموریت خوښي وښوده او د افغانستان اسلامي امارت د هر اړخیزې همکارۍ او ملاتړ څخه یې مننه وکړه وې ویل، افغانستان او چین د لرغونو او تاریخي اړیکو لرونکي دوه ګاونډي هیوادونه دي.
د چین سفیر وویل، هیواد یې د ملګرو ملتونو سازمان او نورو سازمانونو غونډو کې د افغانستان ملاتړ کوي. نوموړي د دواړو هیوادونو اقتصادي اړیکو ته په اشارې وویل، په تېرو دریو کلونو کې د چین او افغانستان تر منځ اقتصادي تعاملات ښه شوي او د دواړو هیوادونو د خلکو تر منځ تګ راتګ زیات شوی دی.
په مقابل کې د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي په تېرو دریو کلونو کې په افغانستان کې د چین سفیر بریالی ماموریت وستایه وې ویل، په تېر کې د افغانستان او چین اړیکې ښې وې او هیله لرو چې دغه اړیکې په راتلونکې کې لا زیاتې پراخې شي.
محترم مولوي عبدالسلام حنفي په سیمه او نړۍ کې د چین مقام ته په اشارې وویل، چین د یو مهم اقتصادي ګاونډي په توګه په سیمه او نړیواله کچه پام وړ اغېز لري او هیله لرو چې دغه هیواد د ملګرو ملتونو سازمان او نورو نړیوالو غونډو کې د افغانستان پیاوړی او اغېزناک ملاتړ وکړي.

# وزیر صحت عامه خواستار گسترش همکاری‌های صحی روسیه با...

...محترم الحاج مولوی نور جلال جلالی، وزیر صحت عامه طی سفر رسمی به روسیه و دیدار با میخایل آلبرتویچ موراشکو، وزیر صحت این کشور، خواستار گسترش همکاری‌های صحی میان دو کشور شد.
وزارت صحت عامه با نشر خبرنامه‌یی گفته‌است که محترم الحاج مولوی نور جلال جلالی در این دیدار درباره وضعیت، نیازمندی‌ها و اولویت‌های بخش صحی افغانستان معلومات ارائه کرد و بر ضرورت همکاری بیشتر روسیه در زمینه ارتقای کیفیت خدمات صحی، تقویت ظرفیت مسلکی کارمندان صحی و ایجاد امکانات طبی معیاری تأکید کرد. وی همچنان بر توسعه همکاری‌ها در بخش واردات ادویه، واکسین و تجهیزات طبی، انتقال تکنالوژی‌های جدید و پیشرفته طبی و استفاده از تجارب روسیه برای تقویت سیستم صحی افغانستان تأکید کرد.
وزیر صحت عامه افغانستان گفت که توسعه همکاری‌های صحی میان دو کشور می‌تواند در بهبود خدمات صحی و تأمین نیازهای مردم افغانستان مؤثر واقع شود و خواستار افزایش همکاری‌های تخنیکی روسیه در این بخش شد.
در همین حال، وزیر صحت روسیه آمادگی کشورش را برای گسترش همکاری‌های تخنیکی با افغانستان در بخش صحت اعلام کرد و گفت که روسیه آماده است همکاری‌های خود را در راستای تقویت روابط صحی میان دو کشور توسعه دهد.
در پایان، دو طرف بر ادامه همکاری‌های مشترک و تقویت هماهنگی میان نهادهای صحی افغانستان و روسیه تأکید کردند.
منبع: باختر

# د ریاست الوزراء اداري مرستیال د یو پلاوي په مشرۍ د کندهار عمومي زندان...



...د ریاست الوزراء اداري مرستیال لومړی د یاد زندان له مسئولینو سره وکتل او وروسته یې د زندان اداري چارې، روزنه، روغتیایي او خوراکي خدمات او نورې برخې وارزولې.
وروسته، یاد پلاوي د زندان له مختلفو بلاکونو او برخو څخه هم لیدنه وکړه او له یو شمېر زندانیانو سره په کتنه کې یې د هغوی ستونزې، غوښتنې او وړاندیزونه واورېدل.
ورپسې محترم مولوي عبدالسلام حنفي د یاد زندان له مسئولینو سره په کتنه کې د اداري چارو، روغتیایي او خوراکي خدمتونو ښه والي او بندیانو ته د زده کړو د لا ښې زمینې پر برابرولو ټینګار وکړ.
په پای کې نوموړي وویل، لازمه ده چې مسئولین له بندیانو سره د اسلامي شریعت د اصولو او انساني حقونو پر اساس چلند او د هغوی مسائلو ته رسیدګي وکړي.

www.gmic.gov.af
www.parmakhtag.af



PANA
ARG
Islamic Emirate of Afghanistan
Govt. Media and Information Center

Issue #121

Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)

Contact Number:
93+ (0) 202100633

Email:
info@gmic.gov.af

Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foriegn Affairs, Kabul, Afghanistan

# TAPI Gas Pipeline Reaches the Herat City Area



The Herat Governor's Media Office says that the TAPI gas pipeline has reached the area of Herat city, and preparations are underway to extend the project's gas pipeline into the city and the industrial park.
According to a statement issued by the office, Herat Governor Mawlawi Noor Ahmad Islam Jar discussed preparations for extending the TAPI gas pipeline into Herat city and the province's industrial park during a meeting with Mohammad Murad Amanov, Director General of the TAPI project.
The Herat governor expressed satisfaction over the arrival of the TAPI pipeline in the city area and said that the provincial administration would...ContP#4

# $30 Million Investment Boosts Food Oil and Animal Feed Production in Balkh

The Deputy Prime Minister for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, visited the products of the Mufid Food Oil, Animal Feed and Poultry Feed Production Company in Balkh Province.
The Economic Deputy Prime Minister praised the products of the company and urged its officials to pay full attention to quality alongside quantity. The company's officials assured the Economic Deputy PM that they would maintain quality and comply with relevant standards.
Around $30 million has been invested in the Mufid Food Oil, Animal Feed and Poultry Feed Production Company. The company has the capacity to produce 600 tons of edible oil per month, as well as 5,000 tons of animal and poultry feed.

# Afghanistan-Kazakhstan Trade Reaches $581 Million

Local authorities in Herat have reported a significant expansion in trade relations between Afghanistan and Kazakhstan, saying that the value of trade between the two countries reached $581 million during the past six months.
The issue was discussed during a meeting between Herat Governor Mawlawi Noor Ahmad Islam Jar and a Kazakh delegation.
The delegation was headed by Yerkin Tukumov, Kazakhstan's Special Representative for Afghanistan. Tukumov emphasized expanding transit capacities and removing customs barriers and...ContP#4

# More Than 5,000 Schools and Madrasas Constructed and Rehabilitated in Five Years



The Ministry of Education says that thousands of schools and madrasas across the country have been included in construction and improvement programs over the past five years.
According to statistics from the ministry, during this period, new buildings have been constructed for more than 1,300 schools and madrasas, while more than 4,000 schools and madrasas have been rehabilitated.
Zabihullah Hemmat, spokesperson for the Ministry of Education, said that during the first six months of 1405 S.H. alone, the foundation stones of 42 schools and madrasas were laid.
Students at schools whose buildings have been newly constructed or rehabilitated are pleased with the improvements in their learning environment.
Mansour, a student, said: "We are happy that the Ministry of Education built a new school for us, and we can study comfortably in this school."
Mohammad, a student, said: "With the construction of this school, we now study in an organized manner. Our previous school had been destroyed by earthquakes."
Source: TOLOnews

# Kabulov: Russia Supports Efforts Toward Afghanistan's Economic Self-Sufficiency

A meeting entitled "The Afghan Problem and the Path to Peace" was held in Islamabad with the participation of representatives from several neighboring countries.
Zamir Kabulov, Russia's Special Representative for Afghanistan, participated in the meeting online and emphasized that Russia wants a peaceful Afghanistan that is in coordination with all its neighbors. He said that Russia is making efforts to support Afghans in achieving economic self-sufficiency.
Bakhtiyor Ahmadzoda, Deputy Speaker of the Parliament of Tajikistan and member of the Committee on Agriculture, Water and Land Resources, said that Afghanistan is an integral part of the regional landscape and that peace, stability and sustainable development in Afghanistan are directly linked to the security and prosperity of neighboring countries and the region.
Experts consider Moscow's role in supporting and cooperating with Afghanistan in such meetings to be beneficial.
Source: TOLOnews

# Over 17,000 Tons of Cargo Transported Through Kabul Airport in Six Months



The Ministry of Transport and Civil Aviation says that nearly 1,100 cargo flights were operated through Kabul International Airport during the first six months of the current year, transporting more than 17,000 tons of commercial goods.
According to the information, the flights included 111 dedicated cargo flights, which handled the import and export of 7,535.097 tons of goods. In addition, 965 passenger-carrying cargo flights...ContP#4

# Minister of Public Health Calls for Expansion of Russia-Afghanistan Health Cooperation

Al-Haj Mawlawi Noor Jalal Jalali, Minister of Public Health, during an official visit to Russia and a meeting with Mikhail Albertovich Murashko, Minister of Health of Russia, called for the expansion of health cooperation between the two countries.
The Ministry of Public Health said in a statement that Al-Haj Mawlawi Noor Jalal Jalali provided information on the situation, needs and priorities of Afghanistan's health sector during the meeting and emphasized the need for greater Russian cooperation in improving the quality of health services, strengthening the professional capacity of health workers, and establishing standard medical facilities.
He also emphasized expanding cooperation in the import of medicines, vaccines and medical equipment, transferring new and advanced medical technologies, and utilizing Russia's experience to strengthen Afghanistan's health system.
Afghanistan's Minister of Public Health said that expanding health cooperation between the two countries could contribute to improving health services and meeting the needs of the Afghan people, and called for increased Russian technical cooperation in this sector.
Meanwhile, the Russian Health Minister announced his country's readiness to expand technical cooperation with Afghanistan in the health sector and said that Russia is prepared to develop its cooperation aimed at strengthening health relations between the two countries.
At the end of the meeting, both sides emphasized continuing joint cooperation and strengthening coordination between the health institutions of Afghanistan and Russia.
Source: Bakhtar News Agency

# TAPI Gas Pipeline Reaches the Herat...

...provide the necessary cooperation for advancing and implementing the project.
Meanwhile, Mohammad Murad Amanov, Director General of the TAPI project, said that project officials are working to take the necessary measures to extend the gas pipeline into Herat city and the province's industrial park.
He appreciated the cooperation of the Herat local administration and said that the progress achieved in this area is the result of cooperation between TAPI project officials and the Herat provincial administration.
The TAPI project is one of the region's major gas transmission projects and is planned to transport Turkmenistan's gas through Afghanistan to Pakistan and India.
The pipeline is approximately 1,800 kilometers long and will have the capacity to transport 33 billion cubic meters of natural gas annually.
Previously, technical delegations from Afghanistan and Turkmenistan had also discussed how to establish a gas distribution network in Herat city, industrial parks, residential areas, government offices and commercial areas.
Source: Pajhwok

# Tajikistan Assures Increase in Electricity Exports to Afghanistan



Tajikistan has expressed its readiness to increase the volume of electricity exported to Afghanistan and says it also plans to construct a 500-kilovolt power transmission line.
During a meeting, Mullah Abdul Haq Hamkar, Chief Executive Officer of Da Afghanistan Breshna Sherkat, and Muhammad Umar Asouzoda, Director of Tajikistan's electricity company, discussed increasing electricity imports into Afghanistan, expanding transmission lines, improving electricity quality and voltage, as well as investment and technical cooperation.
Both sides agreed that their technical and commercial teams would continue discussions and work toward practical outcomes for expanding cooperation.
Source: Ariana News

# Afghanistan-Kazakhstan Trade Reaches...

...invited Afghan officials to participate in a joint economic meeting in Kazakhstan.
The Herat governor also highlighted the province's geographical position and economic importance, saying that improved security and transit capacities in Herat provide suitable conditions for attracting investment and expanding regional trade.
Afghanistan and Kazakhstan have previously discussed increasing exports of Afghan agricultural products, importing flour from Kazakhstan, and cooperation on the Torghundi-Herat railway project.
The two countries are also working on developing a roadmap for economic cooperation, with the aim of increasing annual trade between Afghanistan and Kazakhstan to $3 billion in the future.
Source: Ariana News



# Foundation Stone Laid for 22,000-Jerib Industrial Park in Balkh

Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, Economic Deputy Prime Minister, laid the foundation stone of the "Imam Shaqiq Balkhi (may Allah have mercy on him)" Industrial Park at the Hairatan junction in Balkh Province.
Speaking at a ceremony held on the occasion, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund said that the priority of the Islamic Emirate of Afghanistan is to gradually transform Afghanistan into a productive country, turn its young human resources into a productive workforce, connect industry, production and markets, and supply standardized Afghan products to regional and global markets.
The Economic Deputy Prime Minister added that the Balkh Industrial Park demonstrates in practice the Islamic Emirate's commitment, strategic vision and strong determination to establish an industrial and productive Afghanistan.
The Economic Deputy Prime Minister described Balkh as one of the country's important commercial, transit and industrial provinces and said that Hairatan Port should not merely serve as a route for importing goods and ordinary movement; rather, it should become an important transit route for exporting processed products and Afghan-made goods.
At the end, the Economic Deputy Prime Minister called on all industrialists to take advantage of this opportunity and invest in various sectors in the industrial park. He assured them of the Islamic Emirate's cooperation and the provision of necessary facilities.
It is worth mentioning that the Balkh Industrial Park will be constructed on an area of 22,000 jeribs of land and will facilitate the processing of raw materials, production of standardized products and exports across various sectors.

# Over 17,000 Tons of Cargo Transported Through Kabul Airport in...

...transported approximately 10,351 tons of goods.
These cargo and combined flights were operated by various airlines to India, the United Arab Emirates, Türkiye and several other countries.
The Ministry says that significant discounts have also been approved on a number of aviation services in order to further expand cargo flights and reduce traders' costs.
According to the information, the aviation security fee, which was previously $100 per ton of cargo, has now been reduced to $10. Similarly, the ground-handling fee has been reduced from $96 to $40. A 25 percent discount has also been considered for relevant services for scheduled special cargo flights, while a 50 percent discount applies to unscheduled special cargo flights.
According to the ministry, these facilities have been introduced to reduce the cost of air cargo transportation, facilitate the movement of commercial goods by air, and strengthen the country's trade relations with international markets.

# د کابل هوايي ډګر له لارې په شپږو میاشتو کې څه باندې ۱۷ زره ټنه کارګو...



...د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت وايي، د روان کال په تېرو شپږو میاشتو کې د کابل نړیوال هوايي ډګر له لارې څه کم ۱۱۰۰ کارګو الوتنې ترسره شوې، چې په دغو الوتنو کې له ۱۷ زره ټنو څخه زیات سوداګریز توکي لېږدول شوي دي.
د معلوماتو له مخې، په یادو الوتنو کې ۱۱۱ خالصې کارګو الوتنې شاملې دي چې د ۷۵۳۵.۰۹۷ ټنه توکو صادرات او واردات یې ترسره کړې دي. همدارنګه ۹۶۵ مسافروړونکو کارګو الوتنو شاوخوا ۱۰۳۵۱ ټنه توکي لېږدولي دي.
یادې کارګو او ګډې الوتنې د بېلابېلو هوايي شرکتونو له خوا هند، متحده عربي اماراتو، ترکيې او یو شمېر نورو هېوادونو ته ترسره شوې دي.
د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت وايي، د کارګو الوتنو د لا پراختیا او د سوداګرو د لګښتونو د کمولو په موخه په یو شمېر هوايي خدماتو کې د پام وړ تخفیفونه هم منظور شوي دي.
د معلوماتو له مخې، د هوايي چلند د امنیت فیس چې مخکې د هر ټن کارګو لپاره ۱۰۰ امریکايي ډالر و، اوس ۱۰ ډالرو ته راکم شوی دی. همدارنګه د ځمکنیو خدماتو فیس له ۹۶ ډالرو څخه ۴۰ ډالرو ته راټیټ شوی او د منظمو ځانګړو کارګو الوتنو لپاره په اړوندو خدماتو کې ۲۵ سلنه او د غیرمنظمو ځانګړو کارګو الوتنو لپاره ۵۰ سلنه تخفیف په پام کې نیول شوی دی.
د وزارت په وینا، دغه اسانتیاوې د هوايي کارګو د لېږد لګښتونو د کمولو، د هوا له لارې د سوداګریزو توکو د انتقال د اسانتیا او له نړیوالو بازارونو سره د هېواد د سوداګریزو اړیکو د پیاوړتیا په موخه رامنځته شوې دي.

# تاجیکستان افغانستان ته د برېښنا د صادراتو د زیاتولو ډاډ...

...تاجیکستان افغانستان ته د برېښنا د صادراتو د کچې د زیاتولو لپاره خپل چمتووالی څرګند کړی او وايي، چې د ۵۰۰ کیلوولټ برېښنا لېږد مزي د جوړولو پلان هم لري.
د افغانستان برېښنا شرکت عمومي اجرائیوي رییس محترم الحاج ملا عبدالحق همکار او د تاجیکستان د برېښنا شرکت«برق تاجیک» رییس محمدعمر آسوزاده په دې لیدنه کې افغانستان ته د واردېدوونکې برېښنا د زیاتوالي، د لېږد مزیو د پراختیا، د برښنا کیفیت او ولتاژ د ښه‌والي او د پانګونې او تخنیکي همکاریو په اړه خبرې وکړې.
دواړو لوریو پرېکړه کړې، چې تخنیکي او سوداګریز ټیمونه به خپلې خبرې روانې وساتي او د همکاریو د پراختیا لپاره به عملي پایلې ته ورسېږي.
منبع: آریانا نیوز

# د افغانستان او قزاقستان د سوداګرۍ کچه ۵۸۱ میلیون...

...دا موضوع د هرات والي محترم مولوي نوراحمد اسلام‌جار او د قزاقستان د پلاوي ترمنځ په لیدنه کې مطرح شوې ده.
د دې پلاوي مشري د افغانستان لپاره د قزاقستان ځانګړي استازي یرکین توکوموف کوله.
توکوموف د ټرانزیټي ظرفیتونو پر پراختیا او د ګمرکي خنډونو پر لرې کولو ټینګار کړی او افغان چارواکي یې په قزاقستان کې د ګډې اقتصادي غونډې د ګډون لپاره بللي دي.
د هرات والي هم د دغه ولایت جغرافیايي موقعیت او اقتصادي ارزښت ته پر نغوته ویلي، چې د هرات د امنیت ټینګښت او ټرانزیټي ظرفیتونه د پانګونې د راجلبولو او سیمه‌ییزې سوداګرۍ د پراختیا لپاره مناسبه زمینه برابروي.
افغانستان او قزاقستان له دې مخکې هم د افغانستان د کرنیزو محصولاتو د صادراتو د زیاتولو، له قزاقستان څخه د اوړو د واردولو او د تورغونډۍ .هرات د اوسپنې‌پټلۍ په پروژه کې د همکارۍ په اړه خبرې کړې دي.
همدارنګه دواړه هېوادونه د اقتصادي همکاریو د نقشې پر جوړولو کار کوي او موخه یې دا ده، چې په راتلونکې کې د افغانستان او قزاقستان ترمنځ د کلنۍ سوداګرۍ کچه ۳ میلیارډ ډالرو ته لوړه شي.
منبع: آریانا نیوز

# د افغانستان بانک: په بانکونو کې د خلکو سپماوې...

...د عالي شورا په غونډه کې ویلي، چې د سپماوو زیاتوالی د بانکي سکټور د ثبات د پیاوړتیا او د هېواد پر بانکي نظام د خلکو د باور د زیاتېدا ښکارندوي کوي.
په دې غونډه کې د هېواد د پولي سیاستونو، د بانکي سکټور د وضعیت، د اسلامي بانکدارۍ د پراختیا، د برېښنايي بانکدارۍ د پراختیا او مالي خدمتونو ته د خلکو د لاسرسي د زیاتېدا په اړه بحث او څېړنه شوې ده.
دغه راز خالد د اغېزناکو پولي سیاستونو پر پلي کولو، د بانکي سکټور د اوسني وضعیت پر ارزونه، د اسلامي بانکدارۍ د پراختیا لپاره د هڅو پر دوام او مالي خدمتونو ته د خلکو د پراخ لاسرسي د زمینې پر برابرولو ټینګار کړی دی.
هغه د افغانیو د ارزښت او ثبات په اړه ویلي؛ افغانۍ په تېر یوه کال کې سره له دې، چې د نړۍ له اقتصادي ننګونو سره مخ وه، د سیمې او نړۍ د ډېرو اسعارو پر پرتله خپل ثبات ساتلی دی.
د نوموړي د څرګندونو له مخې، دا وضعیت د افغانستان بانک د سنجول شویو او موخو لرونکو پولي سیاستونو د پلي کولو پایله ده.
منبع: آریانا نیوز

# ساخت و بازسازی بیش از پنج‌هزار مکتب و مدرسه در...



...وزارت معارف می‌گوید در پنج سال گذشته، هزاران مکتب و مدرسه در کشور درطرح‌های ساخت و بهینه‌سازی گنجانده شده است. بر اساس آمار این وزارت، در این مدت برای بیش از یک‌هزار و ۳۰۰ مکتب و مدرسه ساختمان تازه ساخته شده و بیش از چهارهزار مکتب و مدرسه بازسازی شده است.
ذبیح‌الله همت، سخنگوی وزارت معارف، گفت: از این میان، تنها در شش ماه نخست سال ۱۴۰۵، سنگ‌تهداب ۴۲ مکتب و مدرسه گذاشته شده است.
در مکتب‌هایی‌که ساختمان‌های‌شان تازه ساخته یا بازسازی شده است، دانش‌آموزان از بهبود فضای آموزشی‌شان خرسنداند.
منصور، دانش‌آموز، گفت: ما خوشحال هستیم که وزارت معارف برای ما یک مکتب جدید ساخت و ما به آرامی در این مکتب درس می‌خوانیم.
محمد، دانش‌آموز، گفت: با ساخته‌شدن این مکتب، ما اکنون منظم درس می‌خوانیم. مکتب قبلی ما در اثر زلزله‌ها تخریب شده بود.
منبع: طلوع نیوز

# از ورود ۴۳ تانکر تیل و بیش از ۴۱ تُن سولر بی‌کیفیت در نیمروز جلوگیری شد

مسئولان در نیمروز می‌گویند که ۴۳ تانکر تیل و بیش از ۴۱ تُن سولر بی‌کیفیت پس از ارزیابی و آزمایش‌های معیاری، از ورود به بازار افغانستان جلوگیری و به کشور ایران مسترد شده‌است.
مولوی نعمت‌الله طلحه، مدیر عمومی نفت و گاز نیمروز به پژواک گفت که ۴۳ تانکر پترول و دیزل پس از نمونه‌گیری و بررسی در لابراتوارهای آمریت کنترول و کیفیت، بی‌کیفیت تشخیص گردید و توسط هیئت موظف دوباره به ایران مسترد شده‌اند. وی افزود که کیفیت پایین تیل‌های وارداتی پس از ارزیابی‌های دقیق لابراتواری تثبیت شده، به همین دلیل اجازهٔ ورود به کشور داده نشده‌است. طلحه از تاجران تیل خواست که منافع ملی را در اولویت قرار دهند، از واردات تیل بی‌کیفیت خودداری کنند و تیل با کیفیت وارد کشور نمایند.
او تأکید کرد که روند بررسی کیفیت تیل وارداتی از ایران ادامه دارد و محموله‌هایی که معیارهای لازم را نداشته باشند، مسترد خواهند شد.
از سوی دیگر، الحاج قاری احمدشاه مبارز، آمر معیار و کیفیت نیمروز گفت که ۴۱ تُن و ۶۳۰ کیلوگرام سولر بی‌کیفیت که در دو عراده موتر ترانزیتی بارگیری شده بود، پس از بررسی‌های معیاری شناسایی و مسترد شده‌است.
مبارز افزود که امارت اسلامی در راستای جلوگیری از واردات اجناس بی‌کیفیت و تاریخ‌گذشته مصمم است و به واردات چنین کالاهایی اجازه داده نخواهد شد.
منبع: پژواک

# طرح اعمار یک ذخیره گاه ده هزار تُن نفت و گاز در بندر اسلام قلعه...

...جلسه نوبتی کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی در قصر مرمرین دایر گردید. طرح اعمار تاسیسات تخلیه و بارگیری نفت و گاز در بندر اسلام قلعه ولایت هرات به جلسه ارایه شد که بعد از بحث همه جانبه قابل تایید پنداشته شد.
براساس این طرح، سکتور خصوصی تاسیسات ذخیره نفت و گاز و دیگر تاسیسات مرتبط را با ظرفیت ده هزار تُن در بندر اسلام قلعه اعمار خواهد کرد. این پروژه پس از تکمیل آن سهولت را برای تاجران نفت و گاز در داخل کشور فراهم می کند، مصارف آنها را کاهش می دهد و برای حدود ۳۰۰۰ افغان زمینه کار را فراهم خواهد کرد.

# در ماه سنبله بیش از ۷۹۰ هزار تُن کالا از طریق خطوط آهن افغانستان انتقال یافته‌است



وزارت فواید عامهٔ امارت اسلامی می‌گوید که در جریان ماه سنبله در مجموع ۷۹۰ هزار و ۷۴۱ متریک تُن اموال نفتی، غیرنفتی و سایر مواد از طریق خطوط آهن کشور انتقال داده شده‌است.
محمداشرف حق‌شناس، سخنگوی وزارت فواید عامه با نشر پیامی در صفحه ایکس نوشته که از این میان ۵۲۵ هزار و ۶۶۸ تُن از طریق بندر حیرتان، ۶۴ هزار و ۵۵۵ تُن از طریق بندر آقینه، ۵۸ هزار و ۹۲۴ تُن از طریق بندر تورغندی و ۱۴۱ هزار و ۵۹۴ تُن از مسیر خط آهن خواف–هرات انتقال یافته‌است.
وی تصریح کرده که همچنان در ماه سنبله، سه هزار و ۷۴۴ تُن نوشیدنی گازدار، کشمش و سنگ‌های معدنی از طریق خطوط آهن افغانستان صادر شده‌است.
موصوف اضافه کرده‌است که افزایش انتقالات و صادرات از طریق راه‌آهن می‌تواند زمینه‌ساز افزایش فرصت‌های شغلی و عواید ملی شده و به رشد اقتصادی و خودکفایی کشور کمک کند.
حق‌شناس افزوده‌است که امارت اسلامی برای فراهم کردن شرایط مناسب انتقالات و ایجاد سهولت‌های بیشتر برای تاجران تلاش می‌کند.
منبع: پژواک

# کار فاز نخست میدان‌بار چهار فصل در هرات ۶۰ درصد پیشرفت داشته‌است

مسئولان میدان‌بار بین‌المللی چهار فصل در هرات می‌گویند که کار فاز نخست این پروژه با هزینهٔ پنج‌ونیم میلیون دالر، ۶۰ درصد پیشرفت کرده و قرار است تا پنج ماه دیگر تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شود.
ریاست اطلاعات و فرهنگ هرات در خبرنامه‌ای گفته که این میدان‌بار در مساحت ۶۵ جریب زمین در مرکز ولسوالی انجیل این ولایت در حال ساخت است و با تکمیل آن، زمینه برای عرضه، خرید، فروش و نگهداری بهتر محصولات زراعتی فراهم خواهد شد.
در خبرنامه به نقل از کامران بگرامی، انجینیر این پروژه آمده‌است که کار فاز نخست میدان‌بار هم‌اکنون ۶۰ درصد پیشرفت دارد و در صورت ادامهٔ روند کنونی، این بخش پروژه تا پنج ماه دیگر تکمیل خواهد شد.
به گفته او، در حال حاضر حدود ۴۰۰ کارگر و کارمند در دو شفت کاری در این پروژه مصروف کار هستند.
مسعود واحدی، مدیرعامل میدان‌بار بین‌المللی چهار فصل هرات نیز گفته‌است که این میدان‌بار دارای ۴۵۰ دکان، یک مسجد جامع و یک سردخانه در مساحت ۲۵ جریب زمین خواهد بود.
به گفته واحدی، سردخانهٔ این میدان‌بار ظرفیت نگهداری ۲۰ هزار تُن محصولات زراعتی را خواهد داشت و ایجاد آن می‌تواند زمینهٔ مناسب‌تری برای خرید، فروش، نگهداری و انتقال محصولات زراعتی فراهم کند.
منبع: پژواک

امارت اسلامی افغانستان
مقام ریاست الوزراء
ریاست عمومی دفتر
دفتر سخنگو
مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت




صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
ویب سایت: www.parmakhtag.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

## جلسه‌یی به منظور مدیریت منابع آبی تدویر یافت



جلسه‌یی به منظور مدیریت منابع آبی، تحت ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء و با حضور هیأتی متشکل از مسئولین و نمایندگان ادارات مربوطه برگزار شد.

در این جلسه ابتدا طرحی که به همین مناسبت از سوی ادارات ذیربط تهیه شده بود مورد بررسی و ارزیابی قرار گرفت.

سپس، جهت استفادۀ درست از آب و جلوگیری از هدر رفتن آن تأکید شد و روی تأمین آب برای شهروندان کشور بر احداث بندهای آب، چیک‌دم‌ها و کانال‌های زراعتی، تصامیم لازم اتخاذ گردید.

## د روغتیايي خدمتونو ښه کولو پلاوي غونډه ترسره شوه



د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ، د دې پلاوي د غړو او اړوندو ادارو په ګډون، د روغتیايي خدمتونو ښه کولو پلاوي غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کې، د روغتیايي خدماتي ادارو تر منځ د همغږۍ، د طبي اخلاقو عاملو، د معیاري او باکیفیته لابراتوارونو جوړولو، د روغتیايي کادرونو د مسلکي ظرفیت لوړلو او په روغتونونو کې د سرطاني ناروغیو د تشخیص او درملنې مرکزونو فعالولو په اړه بحث او په تړاو یې لازم تصمیمونه ونیول شول.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د مفید تولیدي شرکت له محصولاتو لیدنه وکړه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، په بلخ ولایت کې د (مفید د خوراکي غوړیو، حیواني خوراکې او چرګانو دانې تولیدي) شرکت له محصولاتو لیدنه وکړه.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دغه تولیدي شرکت د محصولاتو ستاینه وکړه او مسئولینو ته یې ټینګار وکړ، چې د کمیت ترڅنګ کیفیت ته هم پوره پاملرنه وکړي. د دغه تولیدي شرکت مسئولینو د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ته د کیفیت ساتلو او معیارونو په پام کې نیولو ډاډ ورکړ.

مفید د خوراکي غوړیو، حیواني خوراکې او چرګانو دانې تولیدي شرکت کې شاوخوا ۳۰ میلیون ډالر پانګونه شوې، چې په میاشتني ډول ۶۰۰ ټنه خوراکي غوړیو او همدارنګه پنځه زره ټنه حیواني خوراکې او چرګانو دانې د تولید وړتیا لري.

# کابلوف: روسیه از تلاش‌ها برای خودکفایی اقتصادی افغانستان حمایت می‌کند



نشستی تحت نام «معضل افغانستان و مسیر رسیدن به صلح» در اسلام‌آباد با حضور شماری از نمایندگان کشورهای همسایه برگزار شد.

در این نشست ضمیرکابلوف نماینده ویژه روسیه برای افغانستان به گونه آنلاین حضور یافت و تاکید کرده که روسیه خواهان افغانستان صلح آمیز و در هماهنگی با تمام همسایه‌گان است و روسیه تلاش خود را برای حمایت از افغان‌ها انجام می‌دهدتا از نظر اقتصادی به خودکفایی برسد.

بختیار احمدزاده، معاون مجلس نمایندگان تاجیکستان و عضو کمیته امور زراعت، آب و منابع زمینی گفت: افغانستان بخشی جدایی‌ناپذیر از چشم‌انداز منطقه‌ای است و صلح، ثبات و توسعه پایدار این کشورها، به گونه مستقیم با امنیت و رفاه کشورهای همسایه و منطقه، پیوند دارد.

کارشناسان نقش مسکو را در راستایی دفاع و همکاری از افغانستان در چنین نشست‌های سودمند می‌داند.

منبع: طلوع نیوز

## تاجیکستان افغانستان ته د برېښنا د صادراتو د زیاتولو ډاډ څرګند کړ



۵

## د افغانستان او قزاقستان د سوداګرۍ کچه ۵۸۱ میلیون ډالرو ته ورسیده

د هرات سیمه‌ییزو چارواکو د افغانستان او قزاقستان ترمنځ د سوداګریزو اړیکو له پامه پراختیا خبر ورکړی او څرګندوي، چې په تېرو شپږ میاشتو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ ارزښت ۵۸۱ میلیون ډالرو ته رسېدلی دی...

۵

## طرح اعمار یک ذخیره گاه ده هزار تُن نفت و گاز در بندر اسلام قلعه قابل تایید پنداشته شد

۵